افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|

درویش وردک
۰۶ اپریل ۲۰۱۶

# پنځه ویشتم مجلس(له دنیا ګوښه کیدل)

د۵۴۵ هجری قمری کال د ذی الحجة په نولسمه شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) داسی وفرمایل:

له عیسی (علیه السّلام) څخه روایت کیږی، چی هرکله به یی یو ښه بوی استشمام کړ، نوسپوږمی به یی پټی کړی اوویل به یی چی دا له دنیا څخه دی.

ای ددروغومدعیانوچی زهد مویوازی په قول اووینا کی دی! په ظاهره مو دتقوی اوزهد جامی اغوستی، ولی باطن موددنیا درغبت اوحسرت څخه ډک دی. هرکله که دغه درياء لباس له تن څخه لیری کړی اوددنیا رغبت اوعلاقه له زړه وباسی، هغه وخت به دنیا ستاسو خپله اودتاسوغوښتونکی به شی. صادق زاهد ته مقسومه روزی وررسیږی، اوله هغی ګټه پورته کوی، ولی په هرحال دزړه څخه له دنیا سره علاقه نلری اوپه ټوله سره په خپل زهد کی ټینګ ولاړ دی. په همدی علت پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) چی له عیسی علیه السلام اونورو انبیاو څخه ډیرزاهد و، فرمایلی: (حُبِّبَ اِلَیَّ مِنْ دُنْیاکُم ثَلاثَ: اَلطِّیَّبُ، اَلنِّساءُ،وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَیْنِی فِی الصَّلاةِ)-«ماته له دنیا څخه دری شیان ډیرګران دی: ښه بوی،له ښځوسره ناسته ، اوپه لمانځه کی زمادسترګونور». په ازلی علم سره ددوی حق ورته مقررشوی، پداسی حال کی چی په ټوله سره یی له هغی پرهیزکړی، ولی دخدای دغوښتنی په مطابقت یی ورته تمایل پیداکړی. ځکه دحق دامرامتثال په هرصورت کی طاعت اوعبادت دی، نوځکه که هرڅوک په ډول له خپلوقسمتونو څخه ګټه پورته کړی نو غلطی یی نده کړی، که څه هم ددنیا جامی واغوندی.

ای نادانه زاهدانو! واوری اوقصد وکړی اوتکذیب یی نکړی، دخپل ځان په پالنه اوزده کړه پسی اوسی ترڅو خپل ځانونه له جهل څخه وژغوری، ځکه جاهل یوازی دځای لپاره عمل کوی اوشیطان اونفس هوا خپل رهبرګرځوی.

ای نادانه منافقینو! ستاسو زړونه څومره ظالمان دی؟! ستاسو بوی څومره ناوړه دی! ستاسوژبه وری څومره ډیره ده! له خپل ګفتار،کرداراوپندارڅخه توبه وکاږی! دخدای اوداولیاء الله پروړاندی چی پرخدای ګران دی اودخدای محبان دی، طعن اوایراد ، ترک کړی.

داچی دوی دخپلو برخوڅخه ګټه پورته کوی ایراد مه نیسی، ځکه دوی دحق په امرعمل کوی، نه دنفس دهوا اوشهوت له مخی. ددوی زړونه دحق دمهرڅخه ډک اوله دنیا بیزاره. په ظاهر اوباطن له دنیا لیری والی کوی، ولی ددنیا څخه دبرخوخاوندان هم دی، اوداپه دی سبب ده چی دخدای ازلی علم دهغی دپاسه دی، نوځکه هغوی ته په پاملرنه اوعنایت

ناچاره دی. ترټولو ستونزمنه مساله ددوی په نظر دنیا ته پاملرنه اوپه هغی کی پاته کیدل دی، اوددنیا ددروغجنو لیدل دی چی خدای اوهرڅوک تکذیب کوی.
(ای دخدای بنده) ترڅو چی دنفس اوهوا سره مل یی دنورو په هکله له څه ویلو ډډه وکړه. ترک کلام وکړه، ځکه که تبارک وتعالی خدای اراده وفرمایی چی تا کوم ځای ته ورسوی ، نو چمتو کوی دی. که وغواړی نوښایسته اوپایداره به دی کړی، هغه دی چی هره ستونزه هواروی اودظهورمرحلی ته یی رسوی،نه ته! خپله وینا اوټول احوال دحق غوښتنی ته تسلیم کړه، اوپه عمل لاس پوری کړه.
په بی ګفتاره عمل، پرته له ریاء په اخلاص، پرته له شرکه په توحید، پرته له شهرته په ګمنامی، پرته له ښکاره په تنهایی اوپرته له ظاهره په باطن. باطنا اودزړه په نیت دخدای په ذکربوخت شه، ته چی خدای ته داسی خطاب کوی: (ِیَّاکَ نَعْبُدوا وَاِیَّاکَ نَسْتَعِین)-«یوازی ستاعبادت کوو اویوازی ستاڅخه مرسته غواړو». په واقعیت کی هغه څوک چی حاضر اوموجود وی ورته خطاب کیږی اووایی: ای چی زما پروړاندی حاضریی، ای چی نیږدی یی اوزما په حال خبر، دتا عبادت کوم اوله تاڅخه استعانت غواړم. هوکی په لمانځه کی همداسی خدای ته خطاب کیږی.! دی امرته په پام سره پیغمبراکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (اَعْبُدِالله کَاَنَّکَ تَراهُ، فَاَنْ لَمْ تَکُن تَرَاهُ فَاَنَّهُ یَرَاکَ)-« داسی دخدای پرستش وکړه چی ګواکی هغه وینی، اوکه ته یی په لیدو قادره نه یی، هغه تاوینی».
تصوف له صفا څخه اخیستل شوی. ای چی پشمینه جامی دی په تن کړی، پوه شه چی صادق صوفی هغه دی چی زړه یی دخدای څخه دغیرو نه پاک شوی وی، اودا هغه څه دی چی په زړی اوڅیرلی خرقی اغوستنه اودمخ په ژیړولو، اودنښانونه په راټولو اودژبی به لګنت سره اوله صلحاو څخه به حکایت ویلو اودتسبیح اوتهلیل په علامه دګوتو په ښندلو نه ترلاسه کیږی. بلکه په صدق اوراستی سره دحق عزّ وجلّ په طلب، له دنیا څخه دزهد، له زړه څخه دخلکو دایستلو، اوله خدایه دغیرو څخه په لیری والی کی ممکن کیږی.
یوه له بزرګانوڅخه(دخدای درود دی وی پری) ویلی: یوه شپه مه له ځان سره ویل، لویه خدایه هغه څه چی ماته ګټوردی اوتاته زیان نه رسوی، مامه منع کوه، اودامی ډیرډیرځله په تکراروویل ترڅو خوب یوړم، په خوب کی می ولیدل چی څوک ماته وایی: ته هم له عمل څخه چی درته ګټوردی کوتاهی مه کوه، زه به هم د هغه څه چی درته زیان رسوی، مخه ونیسم.
خپل نسبت اوپیوستون دخپل ګران پیغمبراکرم( صلی الله علیه وسلم) سره ثابت کړی، البته دااثبات یوازی دده په پیروی اوله اوامرو څخه یی په متابعت کی نغښتی. یوازی ددی ویل چی دده امتی یم، هیڅ ګټه درته نه رسوی. هرکله که د دهغی له وینا اوعمل څخه په خالصانه توګه پیروی وکړه، په آخرت کی به یی به حضورکی وی. آیا دخدای تبارک وتعالی قول دی ندی آوریدلی چی فرمایلی یی دی: (وَمَا آتَاکُمُ الرَّسُولُ فَخُذوهُ وَمَا نَهاکُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا)-« هغه څه چی رسول درکړی واخلی، اوله هغه څه نه چی یی منع کړی، ډډه وکړی. سوره حشر آیه ۷-».
تاسو په دنیا کی په خپلوزړونو اوپه آخرت کی په ټول وجود اوجسم سره ،قادرپاست چی خدای ته ورنیږدی شی. ای زاهدانو! ترڅوچی ستاسو زهد دنفس اودرایی له استبداد سره مل وی، دمنلو وړندی. راځی دهغی بزرګانو څخه چی دخدای په ذات آشنا وی، اوهغو عاملو علماو چی خلق الله دنصیحت اوخیرخواهی په ژبه اوپرته له هرډول مادی اعراضو، راهنمایی کوی، پیروی وکړو، څوک چی له دنیا اعراض کوی اوخدای لوری ته مخ کوی، دپیروی اوتبعیت ښایستګی لری.
(ای دخدای بنده) مخکی له دی چی موکه دلاسه ووزی خدای ته راوګرځه. تایوازی دصلحاو په هکله په خبرو اوله دوی څخه په تمنا اوغوښتنو بسنه کړی، دهغه کس په شان یاست چی په خلاصوورغویو اوبه پورته کوی، مسلماً څه

لاس ته نه ورځي. وای پرتا! تمنا اوغوښتنه یواحمق کاردی، رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (اِیَّاکُمْ وَالتَّمَنِّی فَاِنَّهُ وَادِی الْحُمْقِ)-« له بی ځایه تمنی اوخواهش څخه پرهیزوکړی، ځکه هغه دنادانی وادی ده».
ته دشرداهل اعمال ترسره کوی، اودخیرداهل درجات غواړی. دهرچاچی امیدپر ویره غلبه وکړه په کفراوزندقه سره دچارکیږی، اودهرچا چی خوف پرامید ډیرشو، نودنومیدی سره مخ کیږی، یوه شه چی سلامت په اعتدال کی دی. پیغمبراکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (لَوْوُزِنَ خُوْفُ الْمُوْ مِنِ وَرَجَاءَهُ لَأَعْتَدِلَا)-« که دمومن خوف اورجا سره پرتله شی، نودواړه سره برابردی».
یوه له بزرگانو څخه(دخدای درود دی وی پری) فرمایلی: سُفیان ثُوری(رحمة الله علیه) می وروسته له مړینی په خوب ولید، ورته ومی ویل چی عزّ وجلّ خدای له تاسره څه وکړل؟ راته یی وویل: یوه پښه مه په پل صراط اوبله می په جنت کی کښیښوده،دخدای درود دی پرده وی، هغه فقیه،زاهد، وارع اوعامل عالم وی، چی دعلم حق پرهغی په عمل کولواودعمل حق یی په اخلاص سره اداء کړی و، اوخدای هم دده پاداش ورته اعطاء کړی و. اوپیغمبر(صلی الله علیه وسلم) هم خپل رضایت دهغی په متابعت له سنتوڅخه ورته اعلان کړی. دخدای درود دپرده پرمونږ اوپرټول صلحاو باندی وی.
هرچاچی درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) څخه پیروی ونکړه اودخدای کتاب یی په یوه لاس اودرسول سنت یی پربل لاس کی ونه نیول اودحق په لاره روان نه شو، هم یی ځان هلاک کړاوهم یی نورهلاک کړل، هم خپله گمراه دی اوهم دنورو دگمراهی سبب گرځی. ځکه چی کتاب اوسنت هماغه دوه ریښتنی لارښود دی دالله جلّ واعلاپه لوری. کتاب دی خدای ته راهنمایی کوی اوسنت دی رسول اکرم ته رسوی.
لویه خدای دنفس هوا له مونږه لیری کړی.(آمین)
«آتنا فی الدنیا حسنه وفی الآخرة حسنه وقنا عذاب النار». آمین